# په افغانستان کې د پولې په اوږدو کې ولسي مړګ ژوبله

۱ اپریل – ۳۰ جون ۲۰۲۶

په افغانستان کې
د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

## د دې راپور په اړه

د ۲۰۲۵ کال په اکتوبر کې د افغانستان د *برحاله* امنیتي ځواکونو او د پاکستان د پوځ ترمنځ د پولې په اوږدو کې وسله وال تاوتریخوالی په څرګند ډول ډېر شوی. د پولې په اوږدو کې د وسله واله نښتو په پایله کې د یوناما د بشري حقونو څانګې د اکتوبر د ۱ نېټې څخه تر ۳۰ جون پورې د افغانستان د *برحاله* امنیتي ځواکونو او د پاکستان د پوځ ترمنځ د پولې په اوږدو کې د وسلهوالو نښتو پایله کې د ۴۹۹ ملکي وګړو د وژل کېدو او ۱۲۱۶ نورو د ټپي کېدو پېښې مستندې کړې دي.[۱]

دا راپور د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي ( یوناما) د بشري حقونو څانګې د یوناما د ماموریت له مخې چمتو کړی، تر څو "د ملکي وګړو د وضعیت... څارنه، مستندسازي، راپور او تحلیل کړي".[۲]

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له لوري د ورکړل شوي ماموریت له مخې، د یوناما د بشري حقونو څانګه یوازې د هغو پېښو د څارنې او مستندسازۍ ماموریت لري چې په افغانستان کې رامنځته شوې وي. یوناما دا ماموریت نه لري چې په پاکستان کې رامنځته شوې احتمالي پېښې وڅاري.

د یوناما د بشري حقونو څانګې لخوا د کارېدلې میتودولوژۍ او حقوقي چوکاټ په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ "په افغانستان کې د پولې په اوږدو کې د ولسي مرګ ژوبلې راپور : جنوري – مارچ ۲۰۲۶" سند ته مراجعه وکړئ.[۳]

په افغانستان کې د یوناما لخوا ټول ثبت شوي ملکي تلفات چې په دې راپور کې شامل دي، د افغانستان *برحاله* مسؤلینو او د پاکستان حکومت سره شریک شوي او د هغوي تبصرې د راپور سره ضمیمه دي.

## د اپریل ۱ څخه تر جون ۳۰ پورې د ولسي مرګ ژوبلې ویش

د ۲۰۲۶ کال د اپرېل له ۱ څخه د جون تر ۳۰ پورې، د یوناما د بشري حقونو څانګې په افغانستان کې د پولې په اوږدو کې د وسلوالو تاوتریخوالو له امله ۳۹۹ ملکي تلفات مستند کړي، چې په کې ۵۷ کسان وژل شوي او ۳۴۲ نور ټپیان شوي دي.

د دغو تلفاتو په منځ کې ۴۰ ښځې (شپږ وژل شوي او ۳۴ ټپیانې) او ۱۱۲ ماشومان (۲۶ وژل شوي او ۸۶ ټپیان) شامل وو.

د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې عمده لاملونه هوایي بریدونه او ځمکنۍ نښتې وې.

د راپور ورکولو په دې موده کې په افغانستان کې د پولې په اوږدو کې ټول مستند شوي ملکي تلفات د پاکستان امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي دي.

تر ټولو زیات ملکي تلفات د جون په ۲۸ د پاکستان د امنیتي ځواکونو له لوري په پکتیا، پکتیکا او کونړ ولایتونو کې د ترسره شویو هوایي بریدونو له امله رامنځته شوي، او وروسته د اپرېل د ۲۷ او ۲۹ ترمنځ په کونړ ولایت کې د توپچي بریدونو له امله ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

## په کونړ ولایت باندې توپچي بریدونه، د ۲۷ – ۲۹ اپریل پورې

د اپرېل د ۲۷ او ۲۹ ترمنځ، په کونړ ولایت کې د پاکستاني امنیتي ځواکونو لخوا د پولې په اوږدو کې د توپچي بریدونو له امله ۹۹ ولسي مرګ ژوبله رامنځته شوې، چې په کې اته کسان وژل شوي او ۹۱ نور ټپیان شوي دي.

- د ۲۰۲۶ کال د اپرېل په ۲۷، د ماسپښین شاوخوا ۱:۳۰ بجې، د کونړ ولایت د دانګام ولسوالۍ د واړه ګوربګا په سیمه کې، د پاکستاني امنیتي ځواکونو د توپچي برید یوه مرمۍ یوه استوګنیز کور ته نږدې ولګېده، چې له امله یې دوه ملکي وګړي (یوه ۲۶ کلنه ښځه او یو ۱۴

[۱](۱) یوناما، «په افغانستان کې د پولې په اوږدو کې د ملکي وګړو مرګژوبله: د ۲۰۲۶ کال جنوري – مارچ»، د ۲۰۲۶ کال د مې ۱۲، په دې لیکه: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/۲۰۲٦-۰٥/English%۲۰-%۲۰UNAMA%۲۰HRS%۲۰paper%۲۰on%۲۰cross-border%۲۰civilian%۲۰casualties%۲۰-%۲۰Jan-Mar%۲۰۲۰۲٦_Updated_۱۱,۰٥,۲٦.pdf

(۲) یوناما، «په افغانستان کې د پولې په اوږدو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله: د ۲۰۲۵ کال اکتوبر – دسمبر»، د ۲۰۲۶ کال د فبرورۍ ۸ (د ۲۰۲۶ کال د مې په ۱۱ تازه شوی)، په دې لیکه: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/۲۰۲٦-۰٥/ENGLISH%۲۰-%۲۰UNAMA%۲۰HRS%۲۰paper%۲۰on%۲۰cross-border%۲۰civilian%۲۰casualties%۲۰updated.pdf

[۲] د ۲۰۲۶ کال د جون له ۱۵مې څخه :د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۸۲۲ (۲۰۲۶) پرېکړهلیک؛ له دې مخکې :د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پرېکړهلیک، چې دنده یې «د ملکي وګړو د وضعیت څارنه، راپور ورکول او د هغوی د حقونو او خوندیتوب لپاره ملاتړ او مدافعه کول» ټاکلې دي.

[۳] یوناما، په افغانستان کې د پولې په اوږدو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله: د ۲۰۲۶ کال جنوري – مارچ»، د ۲۰۲۶ کال د مې ۱۲، ۲ مخ، وګورئ: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/۲۰۲٦-۰٥/English%۲۰-%۲۰UNAMA%۲۰HRS%۲۰paper%۲۰on%۲۰cross-border%۲۰civilian%۲۰casualties%۲۰-%۲۰Jan-Mar%۲۰۲۰۲٦_Updated_۱۱,۰٥,۲٦.pdf

کلن هلک) ټپیان شول.

- د ۲۰۲۶ کال د اپرېل په ۲۷، د ماسپښین شاوخوا ۲:۰۰ بجې، د کونړ ولایت د اسعدآباد ښار د ساګي په سیمه کې، د پاکستاني امنیتي ځواکونو د توپچي بریدونو ملکي کورونه په نښه کړل. د دغو بریدونو په پایله کې یو ملکي سړی ووژل شو او اووه نور ملکي وګړي (دوه نارینه، درې ښځې، یو هلک او یوه نجلۍ) ټپیان شول.
- د ۲۰۲۶ کال د اپرېل په ۲۷، د ماسپښین شاوخوا ۲:۰۰ بجې، د کونړ ولایت د اسعدآباد ښار د یارګل په سیمه کې، د پاکستاني امنیتي ځواکونو د توپچي بریدونو ملکي کورونه او د سید جمال‌الدین افغاني پوهنتون انګړ په نښه کړ، چې د ښوونې او روزنې پوهنځي ودانۍ او د محصلینو لیلیه یې هم زیانمنه کړه. د دې بریدونو له امله درې ملکي وګړي (دوه نارینه او یوه نجلۍ) ووژل شول او ۴۶ نور ملکي وګړي (۲۲ نارینه، شپږ ښځې، لس هلکان او اته نجونې) ټپیان شول.

د ښوونې او روزنې پوهنځي یوه استاد، چې د پېښې پر مهال په پوهنتون کې حاضر و، د یوناما د بشري حقونو څانګې ته وویل:

*" پرون زه په پوهنتون کې له محصلینو سره په یوه غونډه کې وم. ناڅاپه مو د پاکستاني پوځیانو د توپچي بریدونو له امله د ځو زورورو چاودنو غږونه واورېدل. په هماغه شېبه کې د محصلینو ترمنځ وېره او ګډوډي خپره شوه او خلک هر لوري ته په منډو شول.*

*د ښوونې او روزنې پوهنځي ودانۍ او د پوهنتون د محصلینو لیلیه په نښه شوې. غونډه سمدستي ګډه وډه شوه او ټول کسان له سیمې ووتل.*

*د دې پېښې له امله د پوهنتون څو استادان او محصلین ټپیان شول. امبولانسونه سیمې ته راورسېدل او ټپیان یې د اسعدآباد ولایتي روغتون ته ولېږدول.*

*د کونړ پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي ودانۍ ته د بام ور زیان اوښتی و. د لیلیې د ودانۍ ډېرې ښیښې ماتې شوې وې او څو دروازې هم ماتې شوې وې. همدارنګه، لمریزې تختې د مرمیو یا د چاودنو د چرو له امله زیانمنې شوې وې؛ ښیښې یې ماتې شوې وې او نورې د کار ور نه وې.*

*کله چې ما د ښوونې او روزنې پوهنځي ټولګي وکتل، هغه مې په ډېر ګډوډ او ویجاړ حالت کې وموندل. څېلۍ پر ځمکه خورې ورې پرتې وې، کتابونه او کتابچې هرې خوا ته خپرې وې، او د محصلینو بکسونه او شخصي توکي هماغسې پاتې وو. د ټولګیو دروازې پرانیستې وې او ټوله صحنه د ګډوډۍ او ویجاړۍ ځرګندونه کوله. د دې وضعیت په لیدلو سره زه ډېر خواشینی شوم. وروسته مې دروازې وتړلې او د محصلینو ډېر پاتې شوي توکي مې راټول کړل."*

- د ۲۰۲۶ کال د اپرېل په ۲۷، د ماسپښین شاوخوا ۳:۰۰ بجې، د کونړ ولایت د مرورې ولسوالۍ د لر کلي په سیمه کې، د پاکستاني امنیتي ځواکونو د هاوان مرمۍ پر استوګنیزو سیمو ولګېدې، چې له امله یې ۱۶ ملکي وګړي (څلور سړي، یوه ښځه، اووه هلکان او څلور نجونې) ټپیان شول.
- د ۲۰۲۶ کال د اپرېل په ۲۷، د ماسپښین شاوخوا ۳:۰۰ بجې، د کونړ ولایت د شلتن ولسوالۍ د سنو په سیمه کې، د پاکستاني امنیتي ځواکونو د هاوان یوه مرمۍ پر یوه استوګنیز کور ولګېده، چې له امله یې دوه ښځې ټپیانې شوې.
- د ۲۰۲۶ کال د اپرېل په ۲۷، د ماسپښین شاوخوا ۳:۰۰ بجې، د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالۍ د سرکانو په مرکزي کلي کې، د پاکستاني امنیتي ځواکونو د هاوان مرمۍ د کلي پر استوګنیزو سیمو ولګېدې، چې له امله یې درې ملکي وګړي (دوه سړي او یو نهه کلن هلک) ووژل شول او اته نور ملکي وګړي (شپږ سړي، یو هلک او یوه نجلۍ) ټپیان شول.
- د ۲۰۲۶ کال د اپرېل په ۲۸، د سهار شاوخوا ۱۱:۳۰ بجې، د کونړ ولایت د خاص کونړ ولسوالۍ د کولالانو (زرګرانو بنده) په سیمه کې، د پاکستاني امنیتي ځواکونو د توپچي برید پر استوګنیزه سیمه ولګېد، چې له امله یې اووه ملکي وګړي (دوه هلکان، یوه نجلۍ، یوه ښځه او درې سړي) ټپیان شول.
- د ۲۰۲۶ کال د اپرېل په ۲۹، د مازدیګر شاوخوا ۵:۳۰ بجې، د کونړ ولایت د دانګام ولسوالۍ د جبه په کلي کې، د پاکستاني امنیتي ځواکونو د هاوان مرمۍ په کلي کې ولګېدې، چې له امله یې یو ۱۲ کلن هلک ووژل شو او درې ښځې ټپیانې شوې.

## په پکتیا، پکتیکا او کنړ کې هوايي بریدونه

د ۲۰۲۶ کال د جون په ۲۸، د شپې شاوخوا ۱۱:۳۰ بجې، پاکستاني امنیتي ځواکونو په پکتیا، پکتیکا او کونړ ولایتونو کې درې هوايي بریدونه ترسره کړل، چې له امله یې ۲۸ ملکي وګړي ووژل شول او ۱۸۹ نور ټپیان شول.

### پکتیا ولایت

د ۲۰۲۶ کال د جون په ۲۸، د شپې شاوخوا ۱۱:۳۰ بجې، د پکتیا ولایت د څمکنیو ولسوالۍ د منده خېل په سیمه کې، د پاکستاني امنیتي ځواکونو له لورې هوايي برید یو درې پوړیز ملکي استوګنیز کور په نښه کړ، چې له امله یې یو شمېر اوسېدونکي د ودانۍ تر ویجاړیو لاندې بند پاتې شول.

له هوايي برید وروسته، د سیمې جومات د لوډسپیکر له لارې له خلکو وغوښتل چې د نړېدلې ودانۍ تر خاورو لاندې د بند پاتې کسانو د ژغورنې لپاره مرسته وکړي. ګڼ شمېر اوسېدونکي، چې ډېری یې سړي وو، د دې غوښتنې په ځواب کې د پېښې ځای ته ورغلل څو له قربانیانو سره مرسته وکړي.

د لومړي هوايي برید شاوخوا شل دقیقې وروسته، په داسې حال کې چې د خاورو لاندې د بند پاتې کسانو د ژغورنې هڅې روانې وې، پاکستاني امنیتي ځواکونو دویم هوايي برید ترسره کړ.

د دغو دواړو هوايي بریدونو په پایله کې ۲۲ ملکي وګړي (دوه نجونې، درې هلکان، دوه ښځې او ۱۵ سړي) ووژل شول او لږ تر لږه ۱۸۵ نور ملکي وګړي (پنځه نجونې، ۱۳ هلکان، ۱۱ ښځې او ۱۵۶ سړیان) ټپیان شول. د ملکي وګړو ډېری مرګونه او ټپونه د دویم هوايي برید له امله رامنځته شول.

یو ۱۶ کلن هلک، چې د دویم هوايي برید له امله ټپي شوی و، د یوناما بشري حقونو څانګې ته وویل:

*"زموږ د کلي پر سر د جنګي الوتکې له تېرېدو وروسته مې د یوې زوروري چاودنې غږ واورېد. یو توغندی، چې له جیټ الوتکې څخه توغول شوی و، پر یوه کور ولګېد... ما سمدستي هغه کور ته منډه کړه چې د جنګي الوتکې له خوا په نښه شوی و.*

*کله چې هلته ورسېدم، د خلکو ډېرې چیغې او فریادونه مې واورېدل. ښځو او ماشومانو ژړل او د مرستې غوښتنه یې کوله. هغوی د نړېدلې کور تر خاورو لاندې بند پاتې وو... زه ډېر اندېښمن شوم، نو نږدې جومات ته ولاړم او امام ته مې د پېښې خبر ورکړ.*

*امام ژر اقدام وکړ او ماته او نورو کسانو ته یې، چې جومات ته ورغلي وو، لارښوونه وکړه چې خلکو ته خبر ورکړو څو ټول بند پاتې کسانو د ژغورنې لپاره راټول شي.*

*امام راته وویل چې له نږدې جوماتونو سره هم اړیکه ونیسم او له هغوی وغواړم چې د خپلو لوډسپیکرونو له لارې ورته اعلانونه وکړي، څو خلک د زیانمنې شوې کورنۍ د مرستې لپاره راشي.*

*د دغو اعلانونو په پایله کې د کلي ګڼ شمېر اوسېدونکي په چټکۍ سره د پېښې ځای ته راورسېدل.*

*د لومړي برید شاوخوا ۲۰ دقیقې وروسته، دویم هوايي برید ترسره شو. جنګي الوتکه بېرته راغله او هماغه کور یې یو ځل بیا په نښه کړ. تر هغه وخته سلګونه کسان د ژوندي پاتې شویو د ژغورنې او د مړو د راایستلو لپاره راټول شوي وو.*

*کله چې دویم برید وشو، یوه ټوټه زما په چپه پښه ولګېده... کله چې مې ولیدل چې له بدن څخه مې وینه بهېږي، ډېر کمزوری شوم او نور مې پر ځان کنټرول نه درلود. له هغې وروسته بې‌هوښه شوم. "*

یو بل قرباني د یوناما بشري حقونو څانګې ته وویل چې د لومړي هوايي برید له قربانیانو سره د مرستې لپاره روان و او د دویم برید پر مهال د پېښې له ځای څخه یې شاوخوا ۶۰ تر ۷۰ مترو پورې واټن درلود. هغه د چاودنې د ټوټو/چرو له امله په ورون او پښه ټپي شو.

### پکتیکا ولایت

د ۲۰۲۶ کال د جون په ۲۸، د شپې شاوخوا ۱۱:۳۰ بجې، د پکتیکا ولایت د ګیان ولسوالۍ په لوست کلي کې، د پاکستاني امنیتي ځواکونو له خوا په ترسره شوي هوايي برید کې د ملکي وګړو یو استوګنیز کور په نښه شو. د دې برید له امله شپږ ملکي وګړي (دوه ښځې، یو سړی او درې نجونې) ووژل شول او یوه ښځه ټپي شوه.

### کنړ ولایت

د ۲۰۲۶ کال د جون په ۲۸، د شپې شاوخوا ۱۱:۳۰ بجې، د کونړ ولایت د مروري ولسوالۍ په براولو په سیمه کې، د پاکستاني امنیتي ځواکونو له خوا په ترسره شوي هوايي برید کې د ملکي وګړو یو استوګنیز کور په نښه شو، چې له امله یې یو هلک، یوه نجلۍ او یوه ښځه ټپیان شول.

د قربانیانو د کورنۍ یوه غړي د یوناما بشري حقونو څانګې ته وویل:

*"پاکستاني پوځي ځواکونو له جنګي الوتکو څخه دوه بمونه وغورځول. لومړی بم د شپې شاوخوا ۱۱:۱۰ بجې زموږ د کور شاته ولګېد. د لومړۍ چاودنې وروسته، زموږ کورنۍ سمدستي د خپل خوندیتوب لپاره له کوره ووته. شاوخوا شل دقیقې وروسته، دویم بم وغورځول شو چې په مستقیم ډول زموږ پر کور ولګېد.*

*د برید له امله زما ۱۶ کلن ورور، چې له کوره بهر و، د بم د چرو له امله په پښه ټپي شو. زما اووه کلنه وريره او ۱۹ کلنه ښينه مې د چرو او باد شوو تيږو له امله برسيرنۍ ټپيانې شوې.*

*په دغه برید کې همدارنګه ۱۸ وزې او څلور پسونه ووژل شول او زموږ اووه خونيزکور په بشپړه توګه ويجاړ شو."*

## ناچاوده چاودېدونکي توکي

يوناما د ملکي تلفاتو د زياتوالي مستندې پېښې ثبت کړې دي، چې لامل يې هغه ناچاوده مهمات دي چې د پاکستاني امنيتي ځواکونو او د *برحاله* حکومت د امنيتي ځواکونو ترمنځ له نښتو وروسته سرحدي سيمو کې پاتې شوي دي.

په پکتيکا ولايت کې يواځې يوه پېښه د ۱۳ ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل شوه. د ۲۰۲۶ کال د جون په ۸، د ماښام شاوخوا ۶:۳۰ بجې، د پکتيکا ولايت د برمل ولسوالۍ د دنګر ليګد په سيمه کې يوه ناچاوده مرمۍ وچاودېده، چې له امله يې اووه ملکي وګړي (درې نجونې، دوه هلکان او دوه سړي) ووژل شول او شپږ نور (دوه نجونې او څلور هلکان) ټپيان شول. دغه پېښه هغه مهال رامنځته شوه چې د زړو فلزاتو يوه راټولونکي هڅه کوله د توپ يوه مرمۍ خلاصه يا ټوټه کړي. د سرچينو په وينا، دغه مرمۍ د پاکستاني امنيتي ځواکونو او د *برحاله* حکومت د امنيتي ځواکونو ترمنځ د وروستيو سرحدي وسلوالو نښتو پاتې شونې وه.

## ضمیمه الف: د افغانستان *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت له خوا وړاندې شوې څرګندونې

*بسم الله الرحمن الرحیم*

**د افغانستان په پکتیکا، پکتیا او کونړ ولایتونو کې د پاکستان د پوځ د وروستي پوځي تېري په اړه**

۲۹ جون ۲۰۲۶

د پاکستان پوځ، د خپلو پرلپسې یرغلګرو اقداماتو په دوام، یو ځل بیا د ۲۰۲۶ کال د جون د ۲۸ او ۲۹ نېټې په شپه د افغانستان پر خاوره بریدونه ترسره کړل. دغه هوايي بریدونه د پکتیکا ولایت د ګیان ولسوالۍ، د پکتیا ولایت د ځمکنیو ولسوالۍ او د کونړ ولایت د مروړې ولسوالۍ پر ملکي سیمو ترسره شول، چې له امله یې شاوخوا ۳۶ ملکي وګړي، د ښځو او ماشومانو په ګډون، ووژل شول او ۱۶۳ نور ټپیان شول.

د دغو بریدونو له جملې، یو هوايي برید د پکتیا ولایت د ځمکنیو ولسوالۍ د مندوخېلو په کلي کې د یوه ملکي وګړي، بسم‌الله، پر کور ترسره شو، چې له امله یې د کورنۍ یو مشر غړی او یو ماشوم ووژل شول او د کورنۍ څو نور غړي ټپیان شول. له پېښې وروسته، د سیمې اوسېدونکي د زیانمنې شوې کورنۍ د ژغورنې لپاره د پېښې ځای ته ورغلل، خو سیمه بیاځلي په هوايي برید وویشتل شوه، چې له امله یې ۲۸ کلیوال ووژل شول او ۱۵۸ نور ټپیان شول.

همدارنګه، د پکتیکا ولایت د ګیان ولسوالۍ د والوست په کلي کې یو هوايي برید د یوه ځایي اوسېدونکي پر کور ترسره شو، چې په پایله کې یې شپږ ملکي وګړي، چې ډېری یې ښځې او ماشومان وو، ووژل شول.

سربېره پر دې، د کونړ ولایت د مروړې ولسوالۍ د براولو په کلي کې هم د یوه ملکي وګړي کور بمبار شو. که څه هم د دې برید له امله د مرګ‌ژوبلې راپور نه دی ورکړل شوی، خو کور په بشپړه توګه ویجاړ شو او د پام وړ مالي زیان یې واړاوه.

د افغانستان اسلامي امارت د پوځ دغه یرغل، جرم او وحشیانه عمل په کلکه غندي او هغه یو بزدلانه اقدام بولي. اسلامي امارت دغه بریدونه د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا ښکاره سرغړونه او پاروونکی عمل ګڼي. اسلامي امارت په بشپړه توګه هغه ادعاوې ردوي چې ګواکې په دغو بریدونو کې وسلوال کسان په نښه شوي یا وژل شوي دي، او دغه ادعاوې بې‌بنسټه او یوازې تبلیغات بولي.

د افغانستان اسلامي امارت همدارنګه هغه بې‌بنسټه ادعاوې په کلکه ردوي چې د کراچۍ ښار د وروستي برید په تړاو مطرح شوې او هڅه شوې ده چې دغه پېښه افغانستان ته منسوبه شي. د یادونې وړ ده چې له تېرو شاوخوا نهو میاشتو راهیسې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د تش په نوم ډیورند کرښې په اوږدو کې تولې د تګ راتګ لارې تړلې دي او د دواړو هېوادونو ترمنځ پر ځمکني تګ راتګ سخت محدودیتونه لګول شوي دي. سربېره پر دې، یاده پېښه د پاکستان د کراچۍ په ښار کې، چې د تش په نوم ډیورند کرښې څخه سلګونه کیلومتره لرې موقعیت لري، رامنځته شوې ده. د باور وړ شواهدو او بېطرفه څېړنو له نشتوالي سره، د افغانستان د ښکېلتیا په اړه ادعاوې غیرمسؤلانه، بې‌بنسټه او له واقعیتونو سره په ټکر کې دي. همدارنګه، د دغو بې اساسه تورونو د پلمې په توګه د افغانستان پر خاوره پوځي بریدونه ترسره کول په هېڅ ډول د توجیه وړ نه دي.

له همدې امله، موږ یو ځل بیا له سیمیزو هېوادونو او نړیوالې ټولنې غوښتنه کوو چې د پاکستان له لوري روان یرغلونه او وحشیانه کړنې په کلکه وغندي او د پاکستان د هغو دوامداره هڅو د مخنیوي لپاره رغنده رول ولوبوي چې په سیمه کې د سولې او امنیت د زیانمنولو لامل ګرځي.

**پای**

## ضمیمه ب: د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت له خوا وړاندې شوې څرګندونې

**د پاکستان سفارت**

**کابل**

١. د افغان طالبانو رژیم لا هم د بېلابېلو ډلو، په شمول د پاکستاني طالبانو تحریک (ټي ټي پي) ، بلوچستان د ازادۍ پوځ (بي ایل اې) او د هغوی د اړوندو شبکو لپاره د فعالیت مناسب چاپېریال برابر ساتلی دی. دغو ترهګریزو سازمانونو ته د فعالیت ازادي، د افغانستان په خاوره کې اډو او خوندي پټنځایونو ته لاسرسی، او همدارنګه د جذب، تمویل او له پولې هاخوا د بریدونو د ترسره کولو وړتیا، یوه جدي امنیتي ګواښ ګڼل کېږي.

٢. د پاکستاني طالبانو تحریک (ټي ټي پي) لا هم د افغانستان له خاورې څخه د خپلو عملیاتي اډو په توګه په استفادې سره د پاکستان پر امنیتي ځواکونو او ملکي وګړو ترهګریز بریدونه ترسره کوي. زرګونو بې ګناه پاکستانیانو ژوند د هغو ترهګریزو بریدونو له امله له لاسه ورکړی چې د افغانستان له خاورې څخه پلان، تمویل او ملاتړ شوي دي. دا ټول د افغان طالبانو د رژیم د څار، ملاتړ او فعالې اسانتیا برابرونې تر سیوري لاندې ترسره شوي دي.

٣. د ٢٠٢٦ کال په فبرورۍ کې، پاکستان د "غضب للحق" په نوم عملیات پیل کړل، څو ترهګرې ډلې او په افغانستان کې د هغوی لوژستیکي او ملاتړې اډې له منځه یوسي. دغه عملیات د پاکستاني طالبانو تحریک (ټي ټي پي) او بلوچستان د ازادۍ پوځ (بي ایل اې) له خوا پر پاکستان د هغو پرله پسې ترهګریزو بریدونو په ځواب کې ترسره شول چې د افغانستان له خاورې څخه سرچینه اخیسته.

٤. د پاکستان اقدامات د خپل مشروع د دفاع حق (ځان ساتنې) د کارولو په چوکاټ کې ترسره شوي، ترڅو د خپلو اتباعو خوندیتوب او امنیت تأمین کړي، او همدارنګه د سیمې او له سیمې هاخوا د پراخ امنیت او ثبات د ساتنې ډاډ ترلاسه کړي.

٥. د ٢٠٢٦ کال د مې او جون په میاشتو کې، پاکستان د پاکستاني طالبانو تحریک (ټي ټي پي) له لوري د ګڼو بریدونو هدف وګرځېد. په دغو بریدونو کې د ٢٠٢٦ کال د جون په ٩ نېټه په پېښور کې د دولتي کانستېبلرۍ پر یوې پوستې ترهګریز برید، د ٢٠٢٦ کال د جون په ٢ نېټه په شمالي وزیرستان کې پر یوې پوځي پوستې د موټر له لارې ترسره شوی ځانمرګی برید، او د ٢٠٢٦ کال د مې په ٩ نېټه بنو کې دپولیسو پر یوه حوزه د موټر بم ځانمرګی برید شامل وو.

٦. د دغو ترهګریزو پېښو له رامنځته کېدو وروسته، پاکستان د پاک - افغان پولې په اوږدو کې د پاکستاني طالبانو تحریک (ټي ټي پي) پر کمپونو او پټنځایونو انتخابي بریدونه ترسره کړل. په نښه شویو اهدافو کې یو روزنیز مرکز، یو پټنځای او د مهماتو زېرمه، او همدارنګه د (ټي ټي پي) د قوماندانانو علیم خان خوشالي او اختر محمد جاني خپل اړوند مراکز شامل وو. د دغو دقیقو بریدونو په ترڅ کې، په ټولیز ډول ۲۶ د پاکستاني طالبانو تحریک (ټي ټي پي) وسله وال له منځه یوړل شول.

٧. د ٢٠٢٦ کال د جون په ٢٧مه نېټه، د پاکستاني طالبانو تحریک (ټي ټي پي) څلورو وسله والو په کراچۍ کې د پاکستاني امنیتي ځواکونو پر یوې پوستې برید وکړ. د رامنځته شوې نښتې او ډزو د تبادلې پر مهال، یو بریدګر د امنیتي ځواکونو له خوا ژوندی ونیول شو. نوموړي اعتراف وکړ چې د افغانستان د جلال‌آباد اوسېدونکی دی او نور افغان اتباع هم په دغه برید کې ښکېل وو. د پېښې هر اړخیزو څېړنو، راټولو شویو شواهدو او تخنیکي استخباراتي معلوماتو څرګنده کړه چې له څلورو بریدګرو څخه درې یې افغان اتباع وو او د برید پلان جوړونه د هغو ترهګرو له خوا رهبري شوې وه چې په افغانستان کې مېشت وو. د دغه ترهګریز برید له امله درې پاکستانی سرتېري ووژل شول او څلور نور ټپیان شول.

٨. وروسته، پاکستان د استخباراتي معلوماتو پر بنسټ د پاک - افغان پولې په اوږدو کې د جماعة الاحرار او پاکستاني طالبانو تحریک (ټي ټي پي) اړوند د ترهګرو پر کمپونو او پټنځایونو دقیق بریدونه ترسره کړل. د دغو دقیقو بریدونو په ترڅ کې، په افغانستان کې د ترهګرو درې خوندي پټنځایونه له منځه یوړل شول، ۲۵ ترهګر ووژل شول، او همدارنګه په دغو ځایونو کې ساتل شوي د وسلو او مهماتو لویې زېرمې هم ویجاړې شوې.

٩. د پاکستان اقداماتو د نړیوالو قوانینو له مخې د تفکیک او تناسب اصولو ته درناوی کړی دی. د پاکستان د وسله والو ځواکونو پوځي بریدونه یوازې هغو مشخصو ترهګریزو پټنځایونو، خوندي ځایونو او د ملاتړ تاسیساتو ته متوجه وو چې په پاکستان دننه د بریدونو مسؤلو ډلو سره یې تړاو درلود.

١٠. پاکستان د اړتیا د اصل او د وروستي اقدام د یوې وسیلې په توګه، د خپل حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا، او د پاکستانیانو د خوندیتوب او امنیت د ساتنې لپاره د ټولو اړینو اقداماتو د ترسره کولو حق له ځان سره محفوظ ګڼي.

١١. سره له دې چې پاکستان په وار وار د افغان طالبانو له رژیم څخه غوښتې چې په افغانستان کې دننه ترهګریزې شبکې او بنسټونه له منځه یوسي، بیا هم ترهګر د افغانستان له خاورې څخه په استفادې د پاکستان خاورې ته نفوذ کوي او پر پاکستانیانو بریدونه ترسره کوي. سربېره پر دې، په پاکستان کې د ترهګریزو اعمالو په ترسره کولو کې د افغان اتباعو ښکېلتیا د جدي اندېښنې وړ موضوع ګڼل کېږي.

۱۲. پاکستان د افغان طالبانو د رژیم له خوا ترهګرو ته برابربدونکې اسانتیا په کلکه غندي او دا د سولې او ثبات د ساتنې لپاره زموږ هڅو ته زیان رسوونکې بولي. پاکستان یو ځل بیا له افغان طالبانو غواړي چې مسؤلانه چلند وکړي او د نړیوالې ټولنې پر وړاندې خپلې د ترهګرۍ ضد ژمنې عملي کړي.